# دَ پاکستان دَ آذادئ ورځ

نن چه تاسو دَ خپل آذادئ دري شپېتم (۶۳) کال مانځي نو څه دَ صدر اوباما او دَ امریکا دَ اولس له اړخه دَ پاکستان اولس ته په ډیره خوشحالي ښه خواهشات او مبارکي وړاندي کوم.

فاطمه جناح یو ځل ویلی وۀ چه دَ پاکستان قصه دَ برابرۍ، دوستۍ، او سماجی او اقتصادی انصاف قصه ده. په کال ۱۹۴۷ کښی دَ آذادئ نه پس دَ پاکستان خلق دهغه قصه هره ورځ لیکی. تاسو ټولو په یو ځائ د ډیرو غمونو ستونځو مخ نیوي کړي دي. په تیرو هفتو کښی پاکستانیانو او دَ دوي نړیوال همکارو په ګډه خلق او دَ هغوي کورونه چه دَ سیلاب ترلاندی شوي وۀ دَ بچ کولو دَ پاره کار کړی دي. ډیر ذیات نقصان شوي دی خو ماته معلومه ده چه پاکستان به یوځل بیا آباد شي. او د پاکستان اولس به خپله هغه قصه چي دري شپیته کاله وړاندي لیکل شورو کړی او جاري ځاتي. خو تاسو ته دی معلومه وي چي دَ امریکا اولس تاسو سره کلک ولاړ دی.

دَ آذادئ نه پس چه تاسو سه ترلاسه کړي دي مونږ دَ هغی ستاینه کوؤ. اؤ مونږ به تاسوسره هغي تصوراتو ته عملي جامه اچولو کښی په هرډول کمک کوؤ.

نو په دي موقعه راځي چي یو ځل بیا دَ دوانړو ملکونو دَ خلقو تر مینځ دَ مضبوتو اړیکو، چي دَ تاریخ، ګډ مقاصد او دوستي په مضبوتو رشتو کښی ګنډلی شوي دي یو ځل بیا پخلی اوکو. او راځي چي یو ځل بیا دَ پاکستان دهغی بنیادي تصوراتو چی په برابرۍ، دوستی او سماجی او اقتصادی یووالي باندی ولاړ دی سره یوځل بیا تړون اوکړو.

دَ دي په وجه پاکستان جوړ شو او دا هغه مقاصد دي چه مونږه ټولو ته ډیر ګران دي. او په داسي حال کښی چی تاسو یو ښه، خوشاله، مضبوط، مترقی او محفوظ پاکستان له پاره ستاسو ملاتړ کوي.

پاکستان کښی دَ جمهوریت دَ پاره اؤ د هغو خلقو دَ پاره چه په دهغه هرڅه حق لری چي تاسو ټول یي په ګډه جوړولي شي. نو تاسو ته دي معلومه وي چه مونږ او نور ټول تاسو سره په دي سفر کښی یوځاي یو.